# د هان الکس هاک استازی
## د مهاجرت، تابعیت، مهاجرت خدماتو وزیر
## او څو کلتوري چارې

## د رسنۍ خپرونه

18 د نومبر 2021

### د هغو افغانانو لپاره ويزې تمديد شوې چې په افغانستان کې يې د استراليا د ماموريت ملاتړ کړې وؤ

د موريسن حکومت نن اعلان وکړ چې هغو افغانانو ته چې په افغانستان کې يې د استراليا د ماموريت ملاتړ کړی او د اګست له مياشتې له ايستلو وروسته هلته پاتې شوي، موقتي بشري ويزې به په دوامداره توګه ورته تمديد شي.

د نن ورځې پريکړه يو دوامداره تمديد د صادر شويو ويزو محلي هغه کارمندانو ته چې مجوز ولري د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو او سوداګرۍ رياست، او د استراليا فدرالي پوليسو، او همدارنګه د استراليا حکومت او د هغوی دکورنيو سره د نورو کاري اړيکو لرونکي اشخاصو ته چې موقتي بشري ويزې ورکړل شوي دوام ورکوي.

د افغانستان کړکيچ ته د ځواب ويلو په ترڅ کې له 5,600 څخه زياتې موقتي بشري ويزې صادرې شوې، چې له 3,500 څخه زياتو افغان موقتي بشري ويزې لرونکو استراليا کې د اوسيدو دپاره سفر پيل کړی دی.

هغه کسان چې د LEE پروګرام څخه بهر دي چې چاته چې لنډمهاله بشردوستانه ويزه ورکړل شوې چې پای ته رسيدونکې ده د آسترالیا د بشردوستانه او کډوالۍ په برخه کې لومړيتوب ترلاسه کوي.

د مهاجرت، تابعيت، مهاجرت خدماتو او د کلتوري چارو وزير اليکس هاک ايم پي ويلي، طالبان بايد د هغو کسانو د هڅو مخه ونه نيسي چې غواړي له افغانستانه ووځي.

"استراليا تمه لري چې طالبان به خپلې ژمنې وساتي ترڅو د استراليا او افغان ويزې لرونکو ته اجازه ورکړي چې په خوندي توګه له افغانستان څخه ووځي که دوي وغواړي. وزير هاک په وينا موږ د دې لپاره د نړيوالو شريکانو سره کار ته دوام ورکوو، ".

په افغانستان کې هغه خلک چې د استراليا د خونديتوب په لټه کې دي کولی شي زموږ د بشردوستانه پروګرام لاندې درخواست وکړي. لومړيتوب به زيانمنونکو او ځورول شوي اقليتونو، ښځو او ماشومانو او هغو کسانو ته ورکړل شي چې له استراليا سره اړيکې لري.

وزير هاوک وويل: "استراليا به د ملګرو ملتونو د کډوالو له عالي کميشنرۍ سره خپلو نږدې کاري اړيکو ته دوام ورکړي ترڅو هغه افغانان وپيژني چې خورا زياته اړتيا لري".

غوښتنليک ورکوونکي بايد د شخصيت، امنيت او روغتيا لپاره د ويزې ټول معيارونه پوره کړي. د آسترالیا خونديتوب او امنيت د ويزو پروسس کولو کې د موريسن حکومت يو مطلق لومړيتوب دی.

وزیر هاوک وویل: "حکومت به په نړدې راتلونکي کې د افغانستان او د بدلیدونکي بشري وضعیت په اړه اعلاناتو ته دوام ورکړي".

هغه وویل: "موږ یو ځل بیا د استرالیا-افغان ټولنې د نږدې همکارۍ، مستقیم نظر او د افغانستان په کړکیچ کې له خلکو سره د مرستې له امله مننه کوو".

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره: د وزیر دفتر- 7770 6277 02**